انجنير عبدالقادر مسعود

# دخدای بخښلي اروابناد امان الله سیلاب ساپی
# د ادبي اوفرهنګي شخصیت ارزونه

د ښي نه کيڼ خوا ته ښاغلی قاضي عزیز الرحمان ممنون ، اروابنادسیلاب ساپی او د
افغانستان وتلی کمپوزر اروابناد محمد دین ز اخیل

زموږ په ادب پاله ټولنه کې ډیر ادبي ستوري ځلیدلي دي، چې نه یوازې زموږ خلک د دوی دخوږ کلام نه برخمند دي، بلکي د دوی ادبي او فرهنګي مقام او شهرت په نورو ټولنو کې هم د نامتو لیکوالانو او ادب پوهانو له خوا ستایل شوي دي . یو له دغو متبارزومتفکرینو،نوښتګرو اووتلوشخصیتونوڅخه خدای بخښلي اروابناداماں الله



سیلاب ساپی دی . دی یو دروند، نامتواو د
لوړواوسپیڅلواوپاکوصفاتوخاوندشاعر و
سیلاب صاحب په خپلو شعرونو کې زموږ دافغاني ټولني او
ولسونو غوښتني او ناخوالي په ډیر عالي او انساني تفکراتواو
سپیڅلواو پاکو احساساتواو عواطفو بیان کړي دي .ده په دی لاره
کې ډیري ستونزې،لوړې ژورې، ستومانتیاوي، ناخوالي، خوږې
او ترخي لیدلي دي، خو ده دعلم ،ادب اوفرهنګ او دخپل علمي، ادبي اوفرهنګي شخصیت لپاره هر اړخیزه مبارزه کړې ده، همدا وجه ده چې دده ادبي او فرهنګي ځیره د ستاینې او پام لرنې وړ ده کله چې ما دسیلاب صاحب دشعرونوټولګه چې (ستا دسترګوبلا واخلم )نومیږي ولوسته، نو په رښتیا سره چې دده په زړه پوري شعرونه یوځانګړې موسیقیت لري، او دده ادبي اوفرهنګي شخصیت د شعر ویلو په ډګر کې یو ځانګړې مقام لري .
ما دده دشخصي ژوند، ادبي اوفرهنګي شخصیت په هکله په خپله وروستي لیکنه کې یو څه توضیحات او تشریحات ورکړي وو، خو زه ضرور ګڼم دښاغلي نصرالله حافظ یوڅوخبری چې داروابنادسیلاب صاحب په رنګین اوسندریز شعرونولیکل شوي دي تاسو ته وړاندې کړم .نصرالله حافظ زموږ د هیواد یوتکړه، وتلي، نامتواوخوږ ژبي شاعر دی،دی دسیلاب صاحب ډیر نږدې ملګری و،د تاسو پام دده لیکنې ته راګرځوم .
زه د ۱۳۵۲کال خبره کوم د پیښور پوهنتون په دغه کال دخوشحال خان خټک په یاد یو سیمینار جوړ کړی و. اودافغانستان څو تنه ادیبان اوشاعرانو ته یې بلنه ورکړې وه چې په دغه غونډه کې ګډون وکړي . په دغه وخت کې سردار محمدداود دافغانستان جمهور ریس کله چې دهغه وخت د اطلاعاتوا
کلتوروزیر ډاکټر نوین ورته دغه بلنه حضور ته وړاندې کړې وه نو په خپل قلم یې دسیلاب صاحب او

زما نوم په نبنه کړی و. او نور يې هدايت ورکړی وچې تاسو په خپلو هر څوک مناسب ګڼی هغسی وکړی چې بيا ډاکتر نوين راډيو ته ورغی چې په دغه وخت کي سيلاب صاحب او ما په راډيو کي کار کاوه او دوه تنه نور يې محترم غلام غوث خيبري اوغلام محی الدين ايوبي کندهاري چې په هغه وخت کي يې چې د پکتيا ورځپاڼه ورانګه چلوله غوره کړل . ديوهنتون د محصلينودا غوښتنه هم وه چې موږ دې څو تنه هنرمندان هم له ځان سره بوځوچې په دغه هنرمندانو کي استاد اولمير هم شامل و. کله چې پيښور ته ورسيدو کيسه ډيره اوږده ده خو زه به يې رالنډه کړم او داستاد هنر او سندرويو نکل به وکړم .
کله چې د موسيقی وار شو او استاد ارمونيې ته کښيناست نو دغه مشهور سروکی يې زمزه کړ
مستي منګی بر وړی دی
زړه مې دلبر وړی دی عالمه لار نيسی ډير يې په هنر وړی دی

نو دغي سندرې په تالار کې په موجوده خلکو دومره اغيزه وکړه چې نارينه او ښځې ودريدې . او تر هغه پورېې يې ورته لاسونه پړکول چې تر څو سندره خلاصه شوې نه وه او بيا ورته دفرمايشونو کړی راروانه شوه چې : ستا دسترګو بلا واخلم يې دوهمه سندره وه ماته او زما ملګرو ته هغه وخت د استاد اولمير د هنر زور اوقوت څرګند شواو په خپل ټول وجود مې د هغه دهنر احساس وکړ . په دغه سيمينار کي يوه مشاعره هم وه چې محترم سيلاب صاحب او ما په کي برخه واخسته . او دهنرمندانو په ډله کي استاد زاخيل او سپين بادام هم وو
سيلاب صاحب د شعر او شاعری په هر صنف کي خپله سرشاره اوښيرازه طبع ازمايلي ده . چې په پوره برياڵي توب ورڅخه وتلی دی . خوپه غريزه خوله کي يې خپل شعر دکمال درجې ته رسولی . سيلاب صاحب ته به ما کله کله ويل : سيلاب صاحب ته خپل شعرونه څنګه دموسيقی اوتنګ ټکور په چوکات کي جوړوې؟ سيلاب صاحب راته وويل : حافظا! زما دا پزه (پوزه) چې ده دا لکه دقوقنوس مښوکه داسي ده . وايي چې دقوقنوس مارغه په مښوکه کي ډير سوري دي او له هر سوري څخه بيل، بيل ښکلي غږونه او انګازې راوځي . ځکه ورته دموسيقار لقب ورکړ شوی دی . کله چې زه دکوم سندريز شعر دجوړولوپه فکر کي شم نودپوزې څخه مې همداسي آوازونه راوځي او چې کوم غږ راته ښه ښکاره شي په همغه سر او تال شعر جوړوم . يو وخت ما دمنګي يو ساده غزل ويلی و چې فکر کوم د شمشاد له هسکي څوکي او يا ستا دچم دګلونو په مجموعوکي چاپ شوی دی اوهغه داسي

چې مازديګر اوبوته ځي وره غړی دار منګی
چې دی معلوم اوسي د نجونوپه کتار منګی
دغه منځی غزل څو بيته لړي خو بل بند يې داسي دی :

خدای زده چې کومه يوه نجلی به ژړيدلي وي پرې
زه چې راتلم توټې، ټوټې پروت و په لار منګی
خپل داغزل مې سيلاب صاحب ته ولوست د هغه ډير خوښ شو. او دستي يې نوروشاعرانو ته وويل :
چې دغه مشاعره مودهغه وخت د هيواد په ورځپاڼه کي خپره کړه او ګڼو شاعرانو په کي برخه واخسته
دسيلاب صاحب د منګي دغزل لومړی بيت يامطلع داسي ده

تاچي راپورته كړوپه ناز او افتخار منګى
ډير بختور دى چي وريت شوى په انګار منګى
بله دشريكي دنيا كيسه ده : ښاغلى ډاكټر زيار، سيلاب صاحب، محمدجان فنا، خليل زى ممنون اوحافظ په خپلو كي سره داسي فيصله وكړه چي راشى يو ادبي اوشعري شريكه دنيا به جوړه كړو. په داسي توګه چي يو شاعر به ديوې غزلي مطلع جوړوي اوبيا به يې نورو ملګرو شاعرانو ته وركوي . او په ټاكلي ورځ به يې ورڅخه اخلي . موږ دغه كار وكړ. او دهيواد د ورځپاڼي سره مو خبرى وكړى هغوى په ورين تندى خپل چمتوالى وښود او شريكه دنيا به په هفته كي يو ځل د هيواد په اخبار كي خپريدله . چي ګڼ شمير شاعرانو په كي برخه واخسته .چي نژدى يو كال دغه شريكه دنيا ودانه وه . او بيا ورانه شوه
وايه په لاس كي دي د چا نښه ده
دا دمجنون كه دليلا نښه ده
دښاغلى سيلاب صاحب ټول شعرونه ، تراني او نظمونه ښكلى او په شاعرانه تلازماتوبرابر دي . خو دغزلو ځنى بيتونه يې لوستونكي او اوريدونكي په شور اومستى راولي لكه ديوه غزل دغه بيت
دسيلاب زيرى يارته يوسه دا خبر يرى وكړه
رنګين شعرونه ستا دعشق دزماني جوړوى
رښتيا چي سيلاب صاحب په خپله وعده وفا وكړه او دعشق دزماني ډير ښكلى او رنګين شعرونه يې وويل او كتابونه يې يرى ډك كړل .په دغه مجموعه كي يې دستركو اوشونډو په غزل كي يو ابتكاري او نوى رنګ پروت دى
څومره چي دى ستركى د زړو ښكار كوي
شونډى دى موسكا كي ابتكار كوي
چي بل ښكلى بند يې داسي جوړ شوى دى
خير دى كه دى ستركى كوږ نظر لري
شونډى دى ستونوكي تكرار كوي
لنده دا چي سيلاب صاحب خاص لوى خداى د شعر ويلولپاره پيداكړى و. خو د دى په څنګ كي يې ډير خوږ او روان نثر هم ليكه چي زياتي مقالي او تحقيقي مضامين يې دهيواد په مطبوعاتوكي خپاره شوي دي . او همدارنګه يې څو لنډي افساني هم ليكلي. اوترجمي يې هم كړي دي . چي په زياتو برخو يې د شعر رنګ غلبه كړي ده كه چيرته دسيلاب صاحب ټول اشعار راغونډ شي .نو په يقين سره دا ويلى شم چي يو په زړه پوري كليات به د شعري كيفيت سره ورنه جوړ شي . او زموږ په معاصرو ادبياتو كي به يوه د قدر وړه اضافه وشي چي زموږ ملي ادب به يرى شته من وي
د سيلاب صاحب د علم، ادب، اخلاقو، خوى خصلت اوكړو وړو په باب بايد ډير څه وويل شي . دسيلاب صاحب په برخه كي زما سره دليكلو دومره څه شته چي په دغو څو پاڼو كي به ځاى نه شي . زه بايد په لنده توګه د سيلاب صاحب دعلمي، اجتماعي او ادبي شخصيت په برخه كي دومره عرض كړم، چي سيلاب صاحب ډير رښتينى مسلمان اوپه وطن مين سرى و. په خپلو دوستانو يې ډيره مهرباني كوله ، په ديره او حجره كي يې لس پنځلس كټه پراته وو.اوپراخه تنده يې ميلمنو ته هر كلى وايه
په رښتيا چي دسيلاب صاحب ادبي اوفرهنګي شخصيت د پښتو ادب په تاريخ كي روښانه ، نه هيريدونكي او نه وركيدونكي دى

دلوی خدای څخه ده  ته جنتونه غواړم . اروا دې ښاده وي
په درناوي : انجنیر عبدالقادر مسعود
په پای کې دتاسو پام د سیلاب صاحب یو شمیر شعرونو ته راګرځوم

## شونډې او سترګې

څومره چې دی سترګی د زړو ښکار کوی
شونډی دی مسکا کې ابتکار کوی
سترګې که دی وړي نظر دسترګونو
شونډی دی د وصل انتظار کوی
خیر دی که دی سترګی کوږ نظر لري
شونډی دی ستونو کې تکرار کوي
سترګی که بی شماره شهیدان لري
شونډی دی د سرو کنډولوکار کوي
ستا ګستاخی سترګی که منکرې شوی
شونډی دسیلاب په عشق اقرار کوي

## د اشنا سلامخانی له څم

مه می ستنوه زاهده پریده میخاني له څم
زړه کې می ارزو ده یو ځل دغه کارخاني له څم
اوښکی بدرګه شوی د ارزو د قافلی سره
ګڼو ولولو کی د اشنا سلامخانی له څم
نه یمه زاهد د کعبی نه د بتخانی عابد
چیرته چي وی ستا حکایت هغه تراني له څم
دي دنګو مانیونه جفا جفا ناری اورم
نور به د وفا په امید شاړې ویراني له څم
نه غواړمه دا چي پنجره ماته زه تری خلاص شمه
خوښ یم دپنجرو سره دمینی پیماني له څم
دا تولی کرواړی چې منلی دی سیلابه ما!
دا به می تقدیر وی چې د دام لاندې داني له څم

## قلمه!

قلمه! ښکل به دی کم نوم دجانان ولیکه
بیا مرور اشناته لعل ومرجان ولیکه
قلمه! جار به دی شم ګوری نثار به دی شم
دخندا ډکه جوپه د ناز کاروان ولیکه

ولیکه غم داشنا تول زیات وکم داشنا
که زما لیکی ورته خیری گریوان ولیکه
وریځي کړی ولیکه سترگی خوړی ولیکه
عنبری زلفی د یار دعطروکان ولیکه
قلمه! ښکل به دی کم دیار کاکل به دی کم
اختیار کل به دی کم داغ دهجران ولیکه
رشوت خیانت چاپلوسی له تانه نه غواړم
ماته دښکلو دنیا کوکی خندان ولیکه
خلک به ستا ای په تا لوړی مانی قصرونه
ماته د مینی کیږدی ښکلی جهان ولیکه
د ډالرپونداو ریال حساب په تا نه کوم
ماته دپاکی مینی سوی رومان ولیکه
سیلابه! یار که غواړی د زړه بهار که غواړی
پام! تنداوتیز مه وایه جان او قربان ولیکه

## دیار دربارته

ندی عاشق ندی چي په مینه کي رسوا نشي
ندی مجنون ندی قربانی چه له لیلا نشي
تش کالبود به گرځي چي زخمی شی په خنجر دعشق
هیڅ علاج د دی زخم په دم او په دوا نشي
عشق چي سیځلی وی نو جوړ به تر هغی نشي
ځو پوری قسم دی چي دیار سره همراه نشي
خدایږو امیران شود عشق درد کي غلامان دیار
نشته وصال نشته ځو دیار د درد گدا نشي
لاړ شه فریادی دیار دربار ته دی (سیلابه)ته
جوړ به نشی دمرض نه ځو دی یار پخلا نشي

## پیغامونه

ای ناصحه ستا وعظونه دی عبث
ماته ستا نصیحتونه دی عبث
غیر له میو غیر له چنگ او ترانی نه
نور فصلونه نور پندونه دی عبث
غیر له مینی غیر له عشقه محبته
نور غمونه نور دردونه دی عبث
غیر له وصل غیر له نازاونزاکته

نور خوندونه نور کارونه دی عبث
غیر له شونډوغیر له زلفوخط وخاله
نورسیلونه شربتونه دی عبث
غیر له یاره له نګاره ای ریباره
داستا زیري پیغامونه دی عبث
که بیرون له حقیقته وی (سیلابه)
په مجاز کې دې خیالونه دی عبث

## سپین مړوند

چې ښکاره دی سپین مړوندشو سپین رخسار
په زړګی می د غم راغی دندو کار
په دنیا کې د عشق رنځ دی لا علاجه
نه رغیږی بی وصاله دا پرهار
د وصال دارو ملهم راته بخشش کړه
ای نګاره که می غواړی جوړتیار
که ربتینی یار دیار سره یاري کړی
څه حاجت لری ریبار ته یار دیار
عاشقان معشوقی هیڅ ملامت نه دی
ازلی دی دا ټولی په غم دوچار
خدای لپاره په لیمومی قدم کیږده
زه (سیلاب)یم ستا راتلو ته انتظار

## دمینی چمچمار

دمینی نندارو‌ته ننداړو سره راځه
دعشق میخانی ته په نخرو سره راځه
سری شونډی سری منګولی سوردی ټیک دی په تندی
راځه په شرنګ وپرنګ له سپینو سرو سره راځه
وړی وړی سلګی می ورانوی هردم خولګی
ریباره که راځی له پریرو سره راځه
دهجر خزان سوی باغچه وصل کړه ګلزار
بلبله که راځی له نغاروسره راځه
(سیلاب) په زړه کرم کرمه دمینی چمچمار
جانانه پاړوګره منترو سره راځه

## دکي پیماني

چي قلم واخلي ښې رنګيني تراني جوړوي
ديار لپاره په مثال کي افساني جوړوي
خلک که ځانته جوړوي مانی راحت لپاره
عاشق دميني منارو کي ميخاني جوړوي
چي شي دميني په ګلزار ګډعاشقان معشوقې
بيا د وصال له زرو ډکي پيماني جوړوي
دحقيقت طرفدارانوتماشي له راشی
مجنون ليلا، فرهاد شيرينه ياراني جوړوي
د (سيلاب) زيری يار له يوسه دا خبر پري وکړه
رنګين شعرونه ستا د عشق دزماني جوړوي

## ساقي ته

راشه ساقی يو ځلی ډک دميو جام راکړه
خمار دعشق نيشه جذبه د انتقام راکړه
خدايږو دنيا نه يم مايوس سترګی می تاته اوړي
نسيمه پريږده تغافل  نوی پيغام راکړه
څو به خوږمن په زړه دردمنداو لوغړن ګرځمه
مطربه راشه د خوښی نوی الهام راکړه
ناصحه ته افلاطونی درسونه ځانته وايه
ماته دخيال په ننداړتون کي ګل اندام راکړه
چي حوصلی مي فيصلی دمشکلاتو وکړي
ماته په دغه سلسله کي لوړ مقام راکړه
چي پړاوونه کړاوونه راته يو قدم شی
داسي نظر داسي وزر د عشق په نام راکړه
يا می زر پورته کړه له خاورو د خودی معراج ته
يا می کړه شمار په ليونو کي نوم د سرسام راکړه
په کار می ندی سره او سپين مانی بنګلی نه غواړم
ليونی مينه دمجنون او د بهرام راکړه
يا می په برخه کاميابی کړه چي ښادی وګورم
يا خودی ژوند دناکامی لره انجام راکړه
چي د پتنګ غوندی لوګي شم په طواف د اشنا
خدايه (سيلاب) ته زر قدرت د دی احرام راکړه

## دسترګوعکاسي

دسترګو په کمرو کي عکاسي مزه لري

عاشق سره عزمونه اساسي مزه لري
مين د خوبروويانوننواتو كي گرم ندی
اشنا ته سلامونه دوه لاسي مزه لري
دوصل په قحطی دی مایوس نشي عاشقان
قسم دی یارانه کي بي وسي مزه لري
په بل گل او سنبل کي هغه خوند کله لیده شي
اوربل کي چي گلونه عباسي مزه لري
(سیلابه) چي دفتر دمحبت کړی خومره چاڼ
ویشتل دغماز تل په فرانسي مزه لري

## دهجر رساله

ساقی بیادې به منگول ډکه پیاله ده
كه زما لپاره بله حواله ده
په پالنګ می داشنا دځوانی خوب دی
كه گلزار کي په ټوپونوغزاله ده
پریشاني راته پریشانو زلفو راکړه
سلسله دتورو زلفو کشاله ده
زما زړه دبیلتانه له غمه شین شو
اشنا کړي دخوبونوقباله ده
انتظار كي مي د خیال سترگی کړې شوې
د هوس لاس کي د هجر رساله ده
عاقبت به یی دبیلتون چپي چپه کړي
چي دعشق په سمندر کي دی جاله ده
چاچي زړه د مهرویانو چنگ ته ورکه
بس د هغه خلكو مینه کنډواله ده
اي سیلابه! د همت واگی دې ټینگ کړه
غمازانو جوړه کړی بنگاله ده

## میخانه

چي په زړه می دعشق نار شو راشریک
خاص جنون می په افکار شو راشریک
زړه می وچاوده له ډیری وسوسی نه
چي اغیار می په دیار شو را شریک
تخیل کی می رنگینی افسانی وی
چي د غم په شپه سحار شو راشریک
دستی مست او لیونی شومه عالمه
دوصال په شپه چی یار شو را شریک

زه دمینی په زانګو کی پروت نیشه وم
په خندا خندا نګار شو راشریک
زه ویده وم دمستانو میخانه کی
چې دلبر می مست خمار شو راشریک
دوصال بازار می واړه معطر شو
چې دزلفو پری یو تار شو راشریک
تصور پوړی می واړه زر زری شوی
چې کوم دم نازک رفتار شو راشریک
دزړه باغ باندی می نوی بهار راغی
په ګلزار د زړه  مالیار شو راشریک
خاوره بوټی که غوټۍ نیالګی زرغون شو
چې پری یار شرین ګفتار شو راشریک
(سیلاب) وایی نوی روح راکی پیدا شوه
چې اشنا می په سینګار شو راشریک

## ثبات

ناصحه دا دمینی زلزلی مه تخنوه
زما د ارزوګانو قافلی مه تخنوه
بی میو می  قسم دی هر ویښته نیشه نیشه دی
ساقی زما په مخ کی سری پیالی مه تخنوه
بیګاه می کری شپه ناصح ته ډیر ډیر وریړل
کوکل کی می دا پتی غلبلې مه تخنوه
په یو تکر به وران کاندی دا لروبر جهان
اشنا د تورو زلفو سلسلې مه تخنوه
دفتر دمحبت کی کار دعقل وعلم څه دی
پاخیږه افلاطونه ولولې مه تخنوه
کامیاب به دی په هر مطلب ثبات کاندی (سیلابه)
د هر مشکل په لار کی حوصلې مه تخنوه

## ډیوه خاندی

بی وصاله زما بله سودا نشته
بی له یاره زما خوب وخندا نشته
حکیمان فیلسوفان ټول راته وایی
بی نګاره درته دم او دوا نشته
زه چې ځان بولم مجنون مجنون هر دم کی

خدایږو ستا په شان هم بله لیلا نشته
تصور او که می خوب او که می خیال دی
بی له هجره په کی بله ژړا نشته
دم په دم می غم په غم باندی زیاتیږی
داشنا راباندی نیله پروا نشته
پتنګ وسوځی ایره شی باد یی یوسی
دیوه خاندی وایی ماله ګناه نشته
ستا په عشق کی ما منلی همه واړه
غیر له مینی ماله بله کیمیا نشته
ای (سیلابه) په امید که د وفایی
په اشنا کی دی بڅرکی وفا نشته

ټال

چې د شوخو سترګو خیال می زنګوی
که دتورو زلفو ټال می زنګوی
مینی دومره اثر کړی چې پوه نه یم
خودبخود که انډیوال می زنګوی
په وصال کې چې هر څنګه ځان محکم کړم
دهجرانری شمال می زنګوی
نصیحت له دی حاجت څه دی؟ ناصحه!
یو نن نه دی سروکال می زنګوی
ارادی که هر څو وترم (سیلابه)!
تصور دخط وخال می زنګوی

**رفقا، دوستان عزیزتارنمای وطندار ! لطفاً نظرات، پیشنهادات، انتقادات، مقاله ها، نوشته ها، مضامین و مطالب**

**علمی و تحلیلی خود را جهتِ نشر به ادرس پوست الکترونیکی سایت بفرستید**

admin@vatandar.at



**مدیر مسوول : دیپلوم انجنیرعمر محسن زاده**

صاحب امتیاز : انجنیرنجیب یوسفی

کلیه ی حقوق بر اساس قوانین کپی رایت  محفوظ و متعلق به «وطندار» می باشد

برگشت به صفحه نخست

http://www.vatandar.at/

بقیه گزیده های مقالات انجنیر عبدالقادر مسعود